بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د سوريې پر شمال سخت راکټي بريدونه**

(ژباړه)



**خبر:**

د سوريې پر شمال ډېر توغنديز بريدونه او پر مهمو غير نظامي ودانيو بريدونه سخت شوي دي. لږترلږه پنځه روغتونونه بمبار شوي او يوازې په تېرو پنځو ورځو کې (د ۲۰۱۷ م، د سپټمبر ۲۱مه) دوې مدرسې ورانې شوې دي. دا په داسې حال کې چې پر داوطلبو مرسته کوونکو او غير نظاميانو دغه جنايتونه هېڅ يوې معتبرې رسنۍ نه دي خپاره کړي. (سرچينه: د OGN ژوندۍ خبرونه)

**تبصره:**

د سوريې په شمال او په ځانګړي ډول ادلب کې د روسيې په وروستيو توغنديزو بريدونو کې ويجاړۍ او وينې تويدنې په اړه د سوريې يو اوسېدونکي په ټکان ورکوونکو څرګندونو کې داسې وويل: «دا چې نړۍ د روهينګيا د مظلومانو د ژغورنې لپاره هېڅ ونه کړل، روسانو خپل بريدونه سخت کړي دي.» دا خبره په بشپړه توګه سمه ده، کله چې دښمن په وحشيانه ډول له کوم ډار پرته پر بې دفاع خلکو په بې رحمۍ بريد کوي او تر شاه يې هېڅ ډول غبرګون نه ويني؛ طبعي خبره ده چې روحيه پيدا کړي او په ډېر زړورتوب خپلو جنايتونو او وينې تويونې ته دوام ورکوي.

موږ د اراکان په ايالت کې د بې‌ګناه مسلمانانو د نسلوژنې پر وړاندې د ميانمار د ګاونډيو هېوادونو نه غبرګون او چوپتيا وليده؛ چې دغه عمل نړيوالې ټولنې ته څرګند پيغام ولېږه؛ چې د مسلمانانو وينه هغوی ته په کومه کچه بې ارزښته ده. دا په داسې حال کې ده چې په سوريه کې د توغنديو ويشتل او بمبارۍ د دې خاورې د انقلاب له پيل څخه، چې کابو له اوو کلنونو راهيسې روان دی، نه دي درېدلي.

روسيه او د اسد رژيم د سوريې د مېړنيو خلکو پر وړاندې له ناوړه سياست څخه کار اخلي، چې پاتې خلک هم ډېر وځپي. په دغه خاوره کې سلګونه داسې پېښې نړۍ ليدلې چې پلار او مور يې خپلو بې ګناه ماشومانو او يا د هغوی د بدن يوې پاتې ټوټې ته اوښکې تويوي.

زېربناوې نورې په سوريه کې نه ساتل کېږي، مشخصې او نا مشخصې موخې هدف ګرځول کېږي. د مورګانو لپاره له روغتونه نيولې بيا تر مدرسو او له نانواييو او پمپ سټيشنونو نيولې بيا د اوسېدو تر اپارتمانونو هېڅ شی په دې خاوره کې خوندي او په امن نه دي. مسلمانان شپه او ورځ د قدرت څښتن دعوتوي او د اسلامي نړۍ د ځواکمنې اردو پر قومندانانو په واويلا غږ کوي چې خپله ايماني او اسلامي

دنده پر ځای کړي، د هغوی غږ ته ورسېږي او د بې دفاع امت دفاع وکړي؛ خو هغوی تل دغو فریادونو او زاریو ته په بې شرمۍ او کڼو غوږونو ځواب ورکړی. له شک پرته چې په دغه عمل هغوی به په دې دنیا او د اخرت په ورځ تر ګرېوانونو ونیسي.
پر دغو ټولو جنایتونو سربېره په سوریه کې زموږ خویندو او ورونو د دغو ټولو بمبارونو او جنایتونو پر وړاندې خپله مېړانه ښودلې؛ چې د بشریت په تاریخ کې بې ساري ده. د هغې کوچینۍ ماشومې تصویر یې یوه نښه ده چې له کنډوالو ژوندۍ او د خندا په حال کې راایستل کېږي. په ډاډ ویلی شو چې له هغوی سره د اسانۍ او ارامۍ ژمنه شوې ده، ځکه پر الله سبحانه وتعالی توکل لري:

**﴿وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّـهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّـهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّـهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾**

[طلاق: ۳]

***ژباړه:*** *او هغه ته به له داسې لارې روزي ورکړي، چې هغه لوري ته یې ګومان هم نه رسیږي. څوک چې پر الله سبحانه وتعالی توګل وکړي، د هغه لپاره الله کافي دی. الله سبحانه وتعالی خپل کار پوره کوي. په یقیني توګه، الله سبحانه وتعالی د هر شي لپاره یو اندزه ټاکلې ده.*

باید وویل شي چې اوس هم ناوخته نه ده، چې د اسلامي نړۍ ځواکمنه اردو توبه وکړي او په خپله شته پرمختللې ټکنالوژۍ او جرت سره سوریې ته ولاړ شي او د دې خاورې پاتې خلک وژغوري؛ وروسته د سوریې ختیځ او لودیځ ته ولاړ شي او د ښکېلاکګرو کافرانو له جنایتونو څخه بې ډاله امت نور ازاد کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: منال بدر**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۱۰مه**

**۲۰۱۷م، د سپتمبر ۳۰مه**